Vermont Chapter
INCORPORATED IN VERMONT
American Academy of Pediatrics
DEDICATED TO THE HEALTH OF ALL CHILDREN®

VCHIP
Vermont Child Health Improvement Program
UNIVERSITY OF VERMONT LARNER COLLEGE OF MEDICINE

VERMONT
DEPARTMENT OF HEALTH
AGENCY OF EDUCATION

# د کووېډ-19 واکسینو اړوند ماشومان لرونکې کورنۍ باید په کومو شیانو پوه شي

موږ پوهېږو چې ډېری کورنۍ د خپلو ماشومانو لپاره د کووېډ-19 واکسینو په اړه پوښتنې لري. لاندې د ځینو هغو عمومي پوښتنو ځوابونه چمتو شوي دي چې والدینو او پالونکو مطرح کړې دي.

## 1. د کووېډ-19 واکسین زموږ بدن ته درس راکوي چې څنګه له کووېډ-19 سره مبارزه وکړي پرته له دې چې موږ ناروغ شو.

د کووېډ-19 واکسین زموږ بدنونو ته یو کتنه ورانده کوي چې د کووېډ-19 واکسین څنګه کار کوي ترڅو زموږ د بدن دفاعي سیستم‌دا وایروس وپېژني او پر وړاندې یې مقاومت وکړي. واکسینونه زموږ بدن ته غواړی چې ښوونې وکي چې ناروغی لپاره ځانګړي پروټینونه چې د انټي باډي په نامه یادېږي تولید کړي ترڅو موږ خوندي وساتي. د کووېډ-19 واکسینونه موږ ته کووېډ-19 نه راکوي.

دا چې د کووېډ-19 وایروس پخپله تقریبا یو نوی وایروس دی، ساینسپوهان د دې ډول وایروسونو په هکله څېړنې کوي، چې د پېړیو راهیسي د کرونا وایروس په نوم یادېږي. په متحده ایالاتو کې د کووېډ-19 ټول شته واکسینونه له کلینیکي آزموینو تېر شوي او د متحده ایالاتو د خوړو او درملو سازمان له خوا د بېړنۍ استفادې لپاره تصویب شوي دي. دا واکسین د طبي او روغتیایي متخصصینو له خوا په ملي کچه او دلته په ورمونټ کې وړاندیز شوي دي.

د ماشومانو او بالغانو په ګډون، تر دېدمه ملیونونه خلک په خوندي توګه د کووېډ-19 پر وړاندې واکسین شوي دي.

## 2.ځینې خلک کېدی شي د واکسینو له امله جانبي عوارض ولري، اما دا عوارض معمولاً خفیف دي او تر ډېره دوام نه کوي.

یاد واکسین د دې لپاره جوړ شوي چې ماشومان ته له حد اقل جانبي عوارضو سره په کافي اندازه خوندیتوب ورکړي. د ماشومانو لپاره د واکسینو دوز له هغه دوز څخه لږ دی چې د 12 کلنو او لوړ عمر لرونکو کسانو لپاره دی.

ځینې خلک به له تزریق وروسته د لنډې مودې لپاره جانبي عوارض ولري، په داسې حال کې چې ځینې نور به هېڅ تغیر احساس نکوي. دا جانبي عوارض د کووېډ-19 عامې نښې دي چې ستاسو بدن د کووېډ-19 پر وړاندې خوندیتوب رامنځ ته کوي. تر ټولو عام جانبي عوارض په لاندې ډول دي: د بازو په هغه برخه کې درد چې واکسین پکې تزریق شوي دي، تبه، لړزه، او ستړیا.

## 3.واکسینو نه کول خپل خطرونه لري لکه شدیده ناروغي، قلبي ستونزې، او داسې نښې چې له منځه نه ځي.

د واکسینو نه کول د کووېډ-19 له امله ستاسو د ماشوم د ناروغه کېدو خطر لوړوي. ډېر ماشومان به یوازې خفیفې نښې تجربه کوي، اما ځینې به

سخت ناروغه شي او حتی بستر کېدو ته به اړ شي.

ځیني خلک چې په کووېډ-19 باندې اخته کیږي کېدی شي داسې نښې نښانې ولري (اوږدمهاله کووېډ) چې د اوږدې مودې لپاره له منځه نه ځي. د ماشومانو لپاره تر ټولو عامې اوږدمهاله نښې نښانې له ستړیا، سردردی، ناآرمه خوب، تمرکزي ستونزو، عضلاتي او مفصلي دردونو او ټوخي څخه عبارت دي.

په کووېډ-19 باندې د اخته کېدو له امله د زړه د التهاب (مایوکارډیټس) خطر د واکسینو له خطر څخه لوړ دی. مایوکارډیټس د کووېډ-19 له واکسینو سره مل یو نادر جانبي عوارض دی، اما معمولاً له درملنې پرته پخپله له منځه ځي.

په ماشومانو کې له کووېډ-19 سره مل یوه نادره اما جدي ناروغي د هغوی د بدن په غړو کې التهاب (پړسوب) دی چې د څو سیستمي التهابي ناروغی، یا MIS-C په نامه یادیږي. ساینسپوهان لا هم په دې اړه څیړنې کوي چې MIS-C څه شی دی او څنګه په ماشومانو باندې اغېز کوي.

ستاسو د ماشوم د خوندیتوب لپاره غوره لار په کووېډ-19 باندې او د هغه/هغې له اخته کېدو څخه مخنیوی واکسین کول، د لوړ کیفیت لرونکو ماسکونو اچول، او د ګڼې ګوڼې له ځایونو څخه ډډه کولږ دي.

## 4.د کووېډ-19 پر وړاندې د واکسینو کول ګټې لري.

د کووېډ-19 واکسین کولای شي د خلکو په واسطه د وایروس د خپرېدو مخنیوی وکړي چې د کووېډ-19 لامل کیږي. د واکسینو لپاره در هر چا مستحق ګرځول کولای شي د هغو ورونو او خویندو په ګډون چې د واکسینو لپاره په شرایطو پوره نه دي او د کورنۍ د هغو غړو په ګډون چې د عفونت په صورت کې په شدیده ناروغی باندې د اخته کېدو له خطر سره مخ دي، او له ټولې کورنۍ سره مرسته کولای شي.

واکسین د کووېډ-19 د پخواني عفونت په پرتله غوره خوندیتوب وړاندې کوي. غیر واکسین شوي کسان چې پخوا په کووېډ-19 باندې اخته شوي دي د هغو کسانو په پرتله چې په بشپړ ډول واکسین شوي دي په لوړ احتمال سره بیا په وایروس باندې ککړېدی شي.

کله چې په ورمونټ کې د ماشومانو د کووېډ-19 نتیجه مثبت شي، دا کولای شي کورنۍ، د ماشوم د پالنې پروګرامونه، او ښوونځي اغېزمن کړي. د ماشومانو واکسینول هغوی له جدي ناروغیو څخه ژغوري او زموږ په ټولنه کې د کووېډ-19 د خپراوي په مخنیوي کې مرسته کوي.

واکسین کول د ډېرې آزادۍ په مانا هم دي، نو د ورمونټ ماشومان کولای شي د ماشومانو په څېر آزاد واوسئ. د ملګرو او کورنۍ د لیدلو، سفر کولو، او ښوونځي ته د تګ په اړه اندېښنې لږې دي.

## 5.تاسو کولای شئ له خپلو ماشومانو سره مرسته وکړئ چې د چمتووالي احساس وکړي او خپل د کووېډ-19 واکسین وکړي.

والدین او پالونکي کولای شي هر ډول واکسینو ته د ماشومانو د چمتو کولو په مرسته کې لوی رول ولوبوي. له هغوی سره خبرې وکړئ چې له واکسین کړلو وروسته څه تمه به وکړي، او په راتلونکو ورځو کې به څه پیښیږي. هغوی د واکسینو له ترلاسه کولو وروسته کېدای شي یوه یا دوې ورځې لږ د ناورغی احساس وکړي، اما دا به ډېر دوام ونکړي.

له هغوی سره خبرې وکړئ چې واکسین به څنګه د هغوی بدن ته ښوونه کوي چې د کووېډ-19 له وایروس سره مبارزه وکړي، او دا چې د واکسینو په کولو سره هغوی په خپل چاپېر کې د هر چا په ساتنه کې مرسته کوي.

## د والدینو او پالونکو لپاره نور معلومات:

- د کووېډ-19 واکسینو ترلاسه کول (د ورمونټ د روغتیا څانګه):
www.healthvermont.gov/MyVaccine | www.healthvermont.gov/KidsVaccine
- د کووېډ-19 د واکسینو ترشا علم: د والدینو مکرري پوښتنې (د ماشومانو د درملنې امریکایي اکادمي):
www.healthychildren.org/English/health-issues/conditions/COVID-19/Pages/The-Science-Behind-the-COVID-19-Vaccine-Parent-FAQs.aspx